نی د افغانستان د آزادو رسنیو ملاتړ کونکې اداره
Nai supporting open Media in Afghanistan

# د رسنیو د څار ریپوټ

193



د امتیاز خاوند: نی
میاشتنی ریپوټ، شمیره ۱۹۳
غبرگولی - چنگاښ ۱۴۰۰

NAI SOMA
Www.nai.org.af
Amina Babak: 0702355866
نی حمایت کننده رسانه‌های آزاد افغانستان

193






## هغه څه چې تاسو يې پدې راپور کې لولئ:

۱. دیوی خبریالی وژل گیدل دکابل په ښار کی
۲. د لوگر په ولایت کی ددولت او طلبانو په نښته کی یو سیمیز خبریال ووژل شو
۳. دغزني په ولایت کی دسماع خصوصی رادیو مسوول ټپی شو
٤. په کابل کی، پولیس دکلید رادیو دیو خبریال انځورونه پاک او هغه ته یی سپکاوی کړې دي
٥. په بلخ ولایت کی درسنیز مرکز دکارکوونکو جبری ایستل
٦. هیواد په شمال کی د ناامنیو زیاتوالی او معلوماتو ته نه لاسرسی
٧. په کابل کی د نوید نو د اونیزی دخبریال دکمری د انځورونو حذف او نوموړی ته سپکاوی.
۸. په غزنی ولایت کی یو خبریال ته سپکاوی او گواښ
۹. او د جزا په قانون کې رسنيزو جرمونو ته، جرمي بنه ورکولو اړتيا شنل

د امتیاز خاوند: نی
میاشتنی ریوټ، شمیره ۱۹۳
غبرگولی - چنگاښ ۱٤۰۰

نی د افغانستان د آزادو رسنیو ملاتړ کونکې اداره
Nai supporting open Media in Afghanistan

## سریزه

جګړه او نا امني هره ورځ دافغانستان خلک په تیره بیا خبریالان له منځه وړی دي اودا ستونزه داسی معلومیږي چی پای نه لري . په تیره میاشت کی ترهګرو دلوګر او کابل ولایتونو کی ددوو تنو خبریالانو ځان اخیستی دی .

دآریانا او آریانا نیوزخبریاله مینا خیری پرحامل موټر باندی چی مورهم ور سره وه دغبرګولی ۱۳ دپنجشنبه ورځ دکابل ښار په پل سوخت سیمه کی چاودنه وشوه ، چی دا او مور یی مړه او خور هم ټپی شول چی وروسته بیا په روغتون کی ساه ورکړه

دلوګر ولایت د محمد اغی ولسوالي سیمیز خبریال حفیظ الله حق‌پرست دچهارشنبی ورځ دغبرګولی ۱۹ دغرمی پر مهال دګلنګار دعرب خان په کلی کی ددولتی ځواکونو او طالبانو دوسله والو جګړو پرمهال ووژل شو

نی دافغانستان د آزادو رسنیو ملاتړ اداره دښکیلو غاړو څخه غواړی ترڅو بشری حقونه رعایت او د عامه خلکو د وژني او په تیره بیا د خبریالانو د وژنی څخه مخنیوی وکړی او دهغوی ساتنه دخپل کار په لومړیتوبونو کی قرار ورکړی.

دښاغلی حق‌پرست په وژنی سره دا نهم خبریال یا رسنیز کارکوونکي دي چی د۲۰۲۱ کال راهیسی خپل ژوند دلاسه ورکوی. کوم چی د افغانستان حکومت د هغه عاملینو او څیړنی کی پاتی راغلی دي.

دسماع خصوصی رادیو مسوول مدیر امید عظیمی د غزنی په ولایت کی هغه وخت چی د دفتر څخه د کور په لوری روان و تر برید لاندی راغی او ټپی شو.

په تیره میاشت کی، دسه شنبه په ورځ د غبرګولی پر ۱۱ د کابل په دریمه امنیتي حوزه کی چی کومه پیښه شوی وه پولیس د امنیت دتامین په پلمه د کلید رادیو دخبریال د کار او فعالیت خنډ وګرځید چی دپولیس دا کار خپله داساسی قانون د ۵۰ او ۳۴ مادی خلاف کار دی.

نی دافغانستان د آزادو رسنیو ملاتړ اداره په دی اند ده چی هیڅوک حق نه لري دامنیت د تامین په پلمه دبیان پر آزادی او معلوماتو ته دلاسرسی باندی محدودیت وضع کړی.

همدارنګه تیره میاشت یو شمیر رسنیو وروسته له هغه چی د بهرنیو ځواکونو وتل د افغانستان څخه اعلان شو پرته لدی چی د تولنیزو رسنیو د کار او فعالیت دتاسیس مقرره او د کار قانون په نظر کی ونیسي، خپل یوشمیر کارکوونکي له کاره ویستل چی پدی هکله یو شمیر شکایتونه د نی درسنیو ځار دفتر ته رسیدلي دی .

شکایتونو ته په پاملرني سره ، نی، دافغانستان د آزادو رسنیو ملاتړ اداره په دي باور ده که چیری داسی چلندونه د درسنیزو کارکوونکو پر وړاندی شتون ولري دقانون او اصولو خلاف کار دی چی دتولنیزو رسنیو د کار او فعالیت دتاسیس د مقرری څخه ځرګنده سرغړونه شمیرل کیږی.

اوپه بل مورد کی، څو موده پخوا یو شمیر رسنیو او رسنیزو بنسټونو خپل خبریالان پرته لدی چی دهیواد نافذه قوانین په نظر کی ولري د دندی څخه ایستلی دی .

همدارنګه ، پـه تیـره میاشـت کی، د باور د رسـنیز مرکز یو شـمیر خبریـالان او کارکوونکي د هیواد په شـمال کـی دجبری اخراج او دیـوی میاشـتی دتنخـواه نه ورکولو نه شـکایت وکړ.

دتولنیـزو رسـنیو د کار او فعالیـت دتاسـیس مقـرره د۲۱ مـادی او د کار د قانـون مطابـق ، سـازمانونه او بنسـتیونه حـق نـه لری چی خبـل کارکوونکـی پـه جـبری توګـه له دنـدی ګوښـه کړی .

پـه تیره میاشـت کـی دنـی پـه دفتر کـی د معلوماتو دافشـای په سـبب هـم غیـر قانونـی او اجبـاری ډول د دندی څخه ایسـتل هم ثبت شـوی دي .

دجمهـور رییـس لومـړی مرسـتیال امرالله صالـح دکورنـی چـارو وزارت د درانـه جرایمـو څلـور تنـه کارکونکـی د رسـنیو سره دمعلوماتـو د ورکـړې او دهغـه د نشرولـو پـه خاطـر لـه کاره ګوښـه کـړی دي.

دا د دندی ګوښـه کول په داسـی حالاتو کی صورت موندلی دي چی د افغانسـتان د اساسـی قانون ۵۰ ماده پراسـاس معلوماتو تـه لاسرسـی د هـر وګـړې حـق بللـی شـوی دی او حکومـت مکلـف دي ترڅـو اطلاعات د هغـوی دغوښـتنې پراسـاس د هغوی په واک کـی ورکړی.

معلوماتـو تـه دلاسرسـی د قانـون د۳٦ مـادی پراسـاس کـوم شـخص چـی معلومـات د ښـه نیـت پـه خاطـر افشـا کـړې د قانـون داحکامـو مطابـق دثبـوت پـه صـورت کی بـه هغه حقوقـی ، اداری او وظیفوی مصئونیـت څخه برخمن وی او ملاتـړ یی کیږی .

نی په دی باور دي که چیری دا مجازات دوام وکړی دابه د معلوماتوآزاد څرخ په ټپه ودروی او هغه ته به زیان ورسوی دجګړی دلمـن پـراخ کیـدل پـه څینـو ولایتونوکـی دافغانسـتان رسـنیزی ټولنـی اندیښـنی را برسـیره کـړی دی، نـی ته د رسیدلو معلوماتـو پراسـاس، پـه کنـدز کـی دجګـړی د ناامنـی له کبلـه د۴ تلویزونـی رسـنیو او ۱۳ رادیویی رسـنیو خپرونـی دریدلی دی چـی یـو شـمیر یی بیرتـه پـه کار پیل کـړی دي.

د افغانسـتان رسـنۍ د بیـان دازادی د امیـد کړکـی، د اوریـدو غـوږ او دټولنـی پرانسـتی سـترګی دی. پـدی شرایطـو کـی د نشراتو بندیـدل ، خلـک دخپـل اساسـی حقونـو څخـه محروموی .

دنـی پـه آنـد د صوتـی یا غږیـزو اوهم دبصری یـا دلیدونکو نشراتـو بندیدل په ولایتونو کی ددی سـبب شـوی دی ترڅو خلک دبیان د آزادی او معلوماتو ته لاسرسـی چی دهغوی اساسـی حق دي؛ محروم شـی.

# یوی ښځینه خبریالی دکابل په ښار کی خپل ځان له لاسه ورکړ




دآریانا و آریانا نیوزخبریاله  مینا خیری پرحامل موټر باندی چی  مورهم ور سره وه دغبرگولی ۱۳ دپنجشنبه  ورځ دکابل ښار په پل سوخت سیمه کی چاودنه وشوه ، چی دا او مور یی مړه او خور هم ټپی شول چی وروسته بیا په روغتون کی ساه ورکړه .
آنان با موتر تونس شهری از بازار به سوی خانه می رفتند که موتر حامل شان آماج انفجار ماین قرار گرفت. هغوی په تونس موټر کی دبازار څخه دکور په لوری روان وه چی موټر یی دماین دچاودونی موخه وگرزیده.
دمینا خیری ماما یوسف وویل:» مینا خپل ټولی هیلی خاورو ته یووړل ، تحصیل یی وکړ،زحمت یی ویسته او وغوښتل چی په دی خاوره کی خدمت وکړی؛ خو هغه  د وطن خدمت کوونکي،ددی نامه لاندی چی گواکی مور دی وطن ته جهاد کو یاهغه کسان چی په  دولت کی دي، او وایی مور خدمت کو، آخر ددی ځوانانو برخلیک ددی کسانو په لاس کی دی .»
دآریانا نیوز شبکی مسوول شریف حسنیار، وایی چی داسی تروروونه دخبریالانو دکاراو دبیان دازادی دفعالیتونو  خنډ نه شی گرځیدلای  او وویل : «خپل  کار او فعالیت ته دوام ورکو . دبیان  آزادی سره کړښه او دمینا خیری دهیلو څخه و مور د هغی لاره څارو .
د میرمن خیری همکارفیصل په آریانا نیوز کی وویل:» مینا خیری زمونږ یوه ښه همکاره او دښه شخصیت او بادادبه انجلی وه د هغی څخه مو هیڅ وخت بده خبره نه وه اوریدلی.»
په همدی حال کی دنی دفتر اجرایی رییس عبدالمجیب خلوتگروویل  حکومت باید دافغانستان خبریالانو اورسنیزی ټولنی ته یو ه امنیتی  پالیسی جوړه او دهغوی امنیت د خپل کارونو په لوموړیتوبونو کی قرار ورکړی، تر څو وکولای شو دکار په جریان کی د مړینی څخه وژغورل شو.
ښاغلی  خلوتگر همدارنگه زیاته کړه :» میرمن میناخیری دیو خصوصی تلیوزون خبریاله او دسیاسی خپرونو چلوونکې دخور او مور سره  دکابل ښار کی ووژل شوه  او ښیی چی رسنیزه ټولنه څومره زیانمنونکی دي. په خواشینی سره خبریالان او رسنیز

کارکونکي په هیڅ ځای کی مصوونیت نه لری، خبریالان د کار په جریان کی وژل کیږی، دکار په دفتر کیږی.»
میناخیری ۲۳ کاله عمر درلود او دپنځو کلونو راهیسی دآریانا او آریانا نیوز سره ددی شبکې په هر ډول خپرونو کی کار کړی دي ..
نی دافغانستان رسنیو ملاتړ کونکی اداره تا کید کوی که چیری دولت دخبریالانو د ساتنی په موخه مهم او اړوند کړنی تر سره نه کړی، داسی پیښی به تکرار شی اودا وضعیت به درسنیزی ټولنی پر ځان یوه سخت گوزار وی.
دا پدی روان میلادی کال کی اتمه پیښه ده چی دهغه له کبله خبریالان او رسنیزی کارکوونکی خپل ځانونه له لاسه ورکوی ..

## یو سیمیز خبریال د لوگر په ولایت کی ووژل شو



دلوگر ولایت د محمد اغی ولسوالی سیمیز خبریال حفیظ الله حق‌پرست دچهارشنبی ورځ دغبرگولی ۱۹ دغرمی پر مهال دگلنگار دعرب خان په کلی کی ددولتی ځواکونو او طالبانو دوسله والو جگړو پرمهال ووژل شو .
دحق‌پرست کورنۍ ویلی دي چی هغه غرمه دگلنگار دعرب خان په کلی کی په بنوالی بوخت و چی د دولت او طالبانو ترمنځ جگړه وشوه او پدی منځ کی حق پرست په شهادت ورسید
تر اوسه څرگنده نه ده چی ښاغلی حق‌پرست ددولتی ځواکونو د ډزو له کبله وژل شوی او یاهم ادطالبانو؛ خو د حق‌پرست د کورنی غړی ادعا کوی چی د دولتی خواکونو له لوری موخه گرځیدلی دی
محمد افضل چی د حق پرست له نژدی خپلوانو څخه دی وایی : «موږ په پټی کی په کار بوخت و چی ددولتی ځواکونو له لوری یوه مرمی پر حقپرست ولگیده او په شهادت ورسید.
یو تن خبریال مطیع الله سرور رسنیو ته وویل :» ښاغلی حق‌پرست دحکومتی ځواکونو له لوری به شهادت ورسیده او موږ

خبریالان د عدالت غوښتونکی یو اوکوم کسانو چی دزی کړی دی هغوی دقانون منګلو ته وسپارل شی ترڅو حق و حقدار ته ورسیږی.»

خو دکورنیو چارو وزارت دا ادعا رد کړی ده او طالبان یې د حق‌پرست په وژنې تورن کړی دی. دکورنیو چارو وزارت ویاند طارق آرین سخنګوی رسنیو ته ویلی دی :» حفیظ الله حق‌پرست دلوګر ولایت سیمیزه خبریال دطالبانو له لوری موخه ګرځیدلی دی او شهید شو. هغه د کلنګار په سیمه کی چی هلته د دطالبانو حضور محسوس کیده په شهادت رسیدلی دی او لومړنی ارزونې ښیې چې دا خبریال دطالبانو له لوری وژل شوی دي.»

دنی دفتر اجرایی رییس عبدالمجیب خلوتګروویل چی دخبریالانو خان او امنیت موضوع ډیره مهمه او په یوه جنجالی موضوع تبدیل شوی ده او حکومت په دی لاره کی اساسی کار نه تر سره کوی.

ښاغلی خلوتګر دخبرو په دوام زیاته کړه :» موږ دجګړی پرمهال د خبریالانو د وژل کیدو شاهدان یو، حتا دهغوی په شخصی ژوند کی ، دافغانستان حکومت باید داسی یو دستورالعمل طرح کړی تر امنیتی بنستونه وکولای شی د خبریالانو مسئله وارزوی، د هغه پرته خبریالان د افغانستان په زیان منونکی ټولني باندی تبدیله شوی ده.»


نی دافغانستان د آزادو رسنیو ملاتړ اداره دنبتو غاړو څخه غواړی ترڅو بشری حقونه رعایت او د عامه خلکو د وژني او په تیره بیا د خبریالانو د وژنی څخه مخنیوی وکړی او دهغوی ساتنه دخپل کار په لومړیتوبونو کی قرار ورکړی .

دا په داسی حال کی ده چی تیره پنج‌شنبه د آریانا و آریانا نیوز تلویزون خبریاله مینا خیری او د هغې مور او خور د هغوی پر حامل موټر باندی دیوه ماین دچاودنی له امله خپل ځانونه له لاسه.

دښاغلی حق‌پرست په وژنی سره دا نهم خبریال یا رسنیز کارکوونکي دي چی د۲۰۲۱ کال راهیسی خپل ژوند دلاسه ورکوی.

ښاغلی حق‌پرست په ۱۳۸۳ کال خپل رسنیز کار د ملی پیغام په رادیو کی دلوګر ولایت د محمدآغه په ولسوالی کی پیل کړ او دشهادت تر وخته پوری په راز راز ملی او نړیوالو رسنیو کی دنده تر سره کړه .

## دغزنی په ولایت کی دسماع خصوصی رادیو مسوول ټپی شو




دسماع خصوصی رادیو مسوول مدیر امید عظیمی د غزني په ولایت کی هغه وخت د کار ددفتر څخه د کور په لوری روان و تر برید لاندی راغی او ټپی شو.

په هغه لیک کی چی د امید عظیمی ورور رامزعظیمی د نی دفتر ته لیږلی و داسی راغلی دی: « دوشنبه، د غبرګولی ۳۱ د ګدول آهنګران په سیمه کی یو کس د باسط فضل الحق زوی په نامه چی اوس هم په زور او جبر او غلا باندی تورن دي، د وسلی څخه په ګټه اخیستني سره، امید الله عظیمی چی دسماع رادیو

د کارکوونکو څخه دي ګواښل شوی او وهل شوی دی او اوس مهال په روغتون کی بستری دی.»

رامز عظیمی د امید عظیمی ورور درسنیو دڅار دفتر ته وویل :» ناپیژاندو وسله والو چی غوښتل امید دخپل ځان سره په زوره موټر ته پورت کړی اوکوم ځای ته یی ولیږدوی؛ خو کله چی امید د هغه پر وړاندی درېری چی په پایله کی دوهلو ټکلولو لاندی راغی او اوس هم په روغتون کی بستری دي.»

د غزنی ولایت ویاند واحدالله جمعه زاده د نی دفتر ولایتي نماینده ته دخبرو پرمهال دا پیښه تائیدکړی او زیاتوی چی قضیه دامنیتی ارګانهای ترڅارنی لاندی ده هغه وویل:» تر اوسه څرګنده نه ده چی دا برید د طالبانو دډلی له لوری تر سره شوی یا کوم بلی ډلی؛ خو کشفی او امنیتی مسوولینو ته دنده ورکړل شوی ده چی دقضیی سبب او څرنګوالی په کلکه وڅاری او ورسته به بیا د رسنیو سره شریک کړی شی.»

دنی دفتر اجرایی رییس عبدالمجیب خلوتګروویل ، ګډه کمیته او کشفی او امنیتی ارګانونه باید دا څرګنده کړی چی څه پیښ شوی دي د مسوول مدیر دخبریالی دکار سره کومه اړیکه لری کنه ؟

ښاغلی خلوتګر وویل:» دافغانستان حکومت اوکډه کمیته باید قضیه په جدی توګه وارزوی او کشفی او امنیتی ارګانونه باید د قضیی عاملان وپیژنی او هغوی د قانون منګلو ته وسپاری.»

دنی په باور، هیڅوک حق نه لری، کوم څوک تر وهلو ټکلول لاندی ونیسی او که هغه خبریال وی او دا وضعیت کیدای شی بیخی توپیر ولری.

دیادولو وړ ده چی دافغانستان د نافذه قوانینو پر اساس، بشری کرامت دهر ډول تعرض څخه مصئون دي او شکنجه، وهل ټکول ناجایز شمیرل شوی دی.

## په کابل کی پولیس دکلید رادیو دیو خبریال انځورونه پاک کړی او هغه ته یی سپکاوی کړې دي

دکلید رادیو خبریال عبدالمالک عطش، وروسته له دوو چاودونو چی په دریمه امنیتی حوزه کی پیښ شول،د خبری پوښښ په موخه او هم دجزییاتو د معلومولو په خاطر دپیښی په ځای کی نه یوازی داچی ددی خبریال دکار خنډ وګرځیدل بلکه دهغه ټول عکسونه او ویدیوګانی چی اخیستی وه هغه پاک کړل کوم چی دپیښی له ځایه اخیستی وی.

ښاغلی عطش د رسنیو دڅار دفتر ته وویل :» کله چی په لومړی چاودنه کی سیمی ته ورسیدم، د عینی شاهدان عکسونه می اخیستی و او دپیښی جزییات می هم واخیستل، پدی وخت کی دساحی پولیس راغلل او زما ټول عکسونه او ویدیوګانی چی اخیستی پاک کړل او ماته یی په ډیر ګواښ او دتاوتریخوالی ډک لهجه وویل چی د ساحی څخه ووزه.»

ښاغلی عطش همدارنګه وویل:» دعکس اخیستو نه مخکی ځان می پولیس ته پیژندلی واو د هغه څخه مو د ورتګ اجازه اخیستی و.»

دکلید رادیو د خبر او څیړنیزو راپورونو مسوول حامد کوهستانی وایی:» د پولیس، دا دول کړنی دخبری پوښښ پرمهال دمعلوماتو پر رسونی او اطلاعاتو پرڅرخ باندی منفی اغیزی لری او دپولیس ددی ډول چلندونو دوام به، خبریالان دی ته وهڅوی ترڅو خپله ځان سانسور کړی.»

دکابل دقومندانی ویاند فردوس فرامرز د نی د رسنیو ښار دفتر ته وویل:» کله چی یوه تروریستی پیښه تر سره کیږی، هیچاته دخبریالان په ګډون د پیښی سیمی ته د ورتګ اجازه نشته او ساحه تړل کیږی او داچی د ښاغلی عطش دکمری انځورونه پاک شوی او هم سپکاوی ورته شوی پدی هکله دی مورږ ته مراجعه وکړی ترڅو مورږ دا موضوع وڅارو.»

دنی دفتر اجرایی رییس عبدالمجیب خلوتګروویل:» د دریمی حوزی په ساحه کی پولیس د امنیت دتامین په پلمه د کلید رادیو دخبریال د کار او فعالیت خنډ وګرځید چی دا خپله داساسی قانون د ۵۰ او ۳۴ مادی خلاف کار دي نی د کورنی چارو وزارت څخه غواړی چی خپل ترلاس لاندی کسانو ته هدایت ورکړی چی دهغوی دنده دامنیت تامین دی نه داچی دآزادو معلوماتو دڅرخ دلاری خنډ وګرزی.»

نی دافغانستان د آزادو رسنیو ملاتړ اداره په دی آند ده چی هیڅوک حق نه لری دامنیت د تامین په پلمه دبیان پر آزادی او معلوماتو ته دلاسرسی باندی محدودیت وضع کړی.

## دباور درسنیزمرکز خبریالان په جبری توګه دکاره ایستل شوی دي

د هیواد په شمال کې د باور رسنیز مرکزیو شمیر خبریالانو او کارکوونکو، د افغانستان د آزادو رسنیو د ملاتړ کونکي نی اداری ته د یو لیک په ترڅ کې د دوی دجبری ایستلو او هم دیو میاشتنی د تنخواه نه ورکولو له امله ددی دفتر رییس شیرشاه امیری څخه شکایت کړې دي.

ددی لیک په یوه برخه کی راغلی دی :» مورږ د دبیان شمال ۲۶ تنه خبریالان او رسنیزکارکونکی چی اوس یی دباور رسنیز مرکز په نامه یادیږی په دی تور او تهمت چی ګواکی د المان دځواکونو کمپ ته دپناه اخیستنی غوښتنه کړی وه د۲۰۲۱ کال د دمی پر۲۹د مخکنی خبرتیا پرته د باور رسنیز مرکزاو خپله عمومی رییس شیرشاه امیری له لوری دکاره ایستل شوی او دفتر ته د داخلیدو اجازه نه ده راکړل شوی او پداسی حال کی چی دیوی میاشتی معاش مو هم ددفتر له لوری

مصادره او بند شوی دی .»

یو تن دایستل شوو خبریالانو څخه رشاد رفعت د رسنیو دڅار دفتر ته وویل:» د۲٦ تنو په شمیره کارکوونکو چی غوښتل دمارمل د پناه غوښتونکی کمپ کی نوم ثبت کړی ، په سبا کله چی خپل دفتر ته ورغلود راتګ اجازه یی رانکړه او موږ ته یی ویل چی تاسو دسازمانی ارزښتونو خلاف کار کړی او تاسو باید اخراج شی.»

مروه سهرابی ددی مرکز یوه بله ګوښه شوی کارکونکې وویل :» سره لدی ترجون تر میاشتی می رسمی قرارداد درلوده او د مخکنی خبرتیا پرته یی موږ ویستلو. زموږغوښتنه داده چی زموږ معاش راکړل شی او زموږ ستونزی ته په کلکه رسیدنه وشی .»

دنی دفتر اجرایی رییس عبدالمجیب خلوتګرو‌ویل:» د خبریالانو دمعاش مسئله باید د ټولنیزو رسنیو د کار او فعالیت دتاسیس مقرره او د کار قانون پراساس باندی باید عمل وکړی کوم خبریالانو چی په رادیو بیان کی ددی ستونزی سره مخ شوی دي، داطلاعات او فرهنګ او هم ټولنیزو چارو وزارت باید په دی برخه همکاری وکړی ترڅو خبریالان خپل حقوقو ته ورسیږی»

شکایتونو ته په پاملرنې سره، نی دافغانستان د آزادو رسنیو ملاتړ اداره په دې باور ده که چیری داسی چلندونه د رسنیزو کارکوونکو پر وړاندی شتون ولری دقانون او اصولو خلاف کار دی چی دټولنیزو رسنیو د کار او فعالیت دتاسیس د مقرری څخه څرګنده سرغړونه شمیرل کیږی.

دټولنیزو رسنیو د کار او فعالیت دتاسیس مقرره د۲۱ مادی او د کار د قانون مطابق ، سازمان‌ونه او بنستونه حق نه لری چی خپل کارکوونکی په جبری توګه له دندی ګوښه کړی.

## هیواد په شمال کی د ناامنیو د زیاتوالی سره معلوماتو ته لاسرسی محدود شوی دی

دهیواد به شمال کی دناامنیو په زیاتوالی سره حبریالان معلوماتو ته دنه لاسریسی او دامنیت دتامین په برخه کی د سیمیز حکومت څخه شکایت لری

دنا امنیو په زیاتوالی اوهم دپرله پسی د ولسوالیو په لویدو سره د جدی ستونزو او معلوماتوته دنه لاسرسی له کبله دبی برخلیک کیدو او ځانی خطر سره مخ دی .

شفیق پویا دتخار په ولایت کی خبریال درسنیو دڅار دفتر ته وویل:» دتخار په ولایت کی سیمیز حکومت هیڅ ډول معلومات دخبریالانو په لاس کی نه ورکوی، حتا اطلاعات دهغوی په ګټه کی نه دی . او کوم اطلاعات چی دخبریالانو سره شریک وی هغه هم ناسم او غلط دي.»

عبدالمنیر حمیدی یو بل دخبریالانو څخه د کندز د بد امنیتی وضعیت څخه شکایت لری اوزیاتوی:»دکندز دښار وضعیت بحرانی دي، طالبان دښار په شاوخوا کی عملاً قرار لری . او همدارنګه امنیتی بنسټونه معلومات زموږ په واک کی نه ورکوی.»

محمد ظاهر عنیق د فاریاب ولایت خبریال وویل :»یوازی د پولیس ویاند زموږ سره همکاری لری او د اردو او قول اردو ویاندان زموږ سره دجګړو جزییات نه شریکوی.»

په همدی حال کی دبلخ دقوماندانی ویاند عادل شاه عادل وویل :» د خبریالانو د امنیت تامین د خبریالانو په شمول د پولیس او حکومت دنده ده او پولیس هوډمن دي چی دهیڅ ډول هڅی او هاند څخه به دریغ نه کوی.»

دنی دفتر اجرایی رییس عبدالمجیب خلوتگروایی، د افغانستان شمال خبریالان وروسته له هغه چی یوشمیر ولسوالی ولویدی معلوماتو ته دنه لاسرسی څخه شکایت لری او دهغه تر څنگ د امنیتی ستونزو، معلوماتو ته نه لاسرسی په یوه غټه ستونزه بدل شوی ده.

ښاغلی خلوتگر دخبرو په دوام وویل:» د افغانستان حکومت هیڅ ډول پالیسی چی دجگړی اعلان په کی شوی وی نه لری او دافغانستان اساسی قانون تر اوسه خپل ځای لری . هیڅ استخباراتی، کشفی و امنیتی ارگان نه شی کولای معلومات داساسی قانون مطابق دخلکو څخه پټ کړی.»

دمعلوماتو نه ورکول د خبری پوښښ او راپورجوړولو په موخه د حکومت له لوری ددی سبب شوی دی چی ، چی معلوماتو ته د لاسرسی قانون په څرگنده او په قصدي ډول نقض شی.

په دی دوو وروستیو اونیو کی وروسته له هغه چی څو ولسوالی دهیواد په شمال کی سقوط وکړ، پرته شکه دولسوالیو لویدل دخلکو او خبریالانو اندیښنی را پارولی دي.

دا وضعیت ددی سبب شوی دی چی حکومتی ارگانونه او سیمیز ویاندان خبریالانو ته معلومات ورنکړی.

## دکابل په ښارکی یو خبریال ته د پولیس له خوا سپکاوی او گواښ وشو

د نوید نو د ورځپاڼی خبریال علی فرهنگ سیامک، دنی درسنیو څار دفتر ته دیو لیک په ترڅ کی لیکلی دي کله چی می دیود برښنایی تذکرو دیو سایټ څخه دراپور جوړولو په حال کی وم چی دامنیتی ځواکونو دفزیکی اخ وډب سره مخ شوم.

ددی لیک په یوه برخه کی راغلی دي: د غبرگولی پر ۲۹ دکارته پروان په سیمه کی یو د برښنایی د ویش مرکز ته تللی وم چی ددی مرکز درییس سره خبری وکړم، خو مسوولین ځواب ویلو ته حاضر نه شول، وروسته می وغوښتل چی د مراجعینو سره خبری وکړم او څو قطعی عکسونه می واخیستل چی دپولیس دناوړه چلند سره مخ شوم چی بلاخره، دفزیکی او بدو ردو ویلو سره اخیستل شوی عکسونه د کمری څخه حذف کړل.

ښاغلی سیامک د نی درسنیوڅار دفتر ته وویل:» دمسوولین داسی ناوړه او دسپکاوی ډک سلوک دخبریالانو پر وړاندی دهغوی دکار پر دوام ناوړه اغیزه شندی.دمسوولینو دا ډول سلوک ددی ښکارندوی دی چی معلوماتو ته لاسرسی یی ځان ته یو وسیله گرځولی ده او دخبریالانو سره ښه او مناسب سلوک نه لری.»

د ملی احصایی ویانده روینا شهابی وایی زموږ مدیران د امنیتی گواښونو له کبله دخبریالانو سره همکاری نه کوی په هغه صورت کی چی دمرکزی دفتر څخه هدایت را نه شی.

میرمن شهابی دخبرو په دوام وویل:» خبریالان هر سایت ته چی دراپور جوړولو په موخه ځی موږ دهغوی سره همکاری کو خو

مرکزی دفتر باید په جریان کی وی.»

په همدی حال کی، عبدالمجیب خلوتگر دنی اجرایی رییس وایی، خبریالان حق لری کله چی په ټولنه کی کومه بی نظمی وینی او یا هم کوم روغتیایی او امنیتی زیان وینی هغه ړڅیری او دموضوع په اړه مرکه وکړی.

ښاغلی خلوتګر دخبرو په دوام وویل :» هغه څه چی دبرشنایی تذکرو په یوه دفتر کی پیښ شوی دی معلوماتو ته دلاسرسی او بیان ازادی ته ځرګند نقض دی دیوی اداری رییس باید په دی هکله ځواب ویونکی اوسی او کوم خبریال چی د تاوتریخوالی او سپکاوی لاندی راغلی دی هغوی باید رسماً بخښنه وغواړی .»

خبریالانو او رسنیزو کار کوونکو ته ګواښ او سپکاوی په افغانستان کی پخوانی تور او تیاره ریشه لری اودبی پلی خبریالانو دراپور پراساس، افغانستان په ۲۰۲۱ کال د هغه هیوادونو په قطار کی قرار درلود او اوس هم افغانستان دخبریالانو او خبریالانو ته ښه ځای نه شمیرل کیږی.

## یو خبریال ته د غزنی په ولایت کی د والی د ساتونکو له لوری ګواښ او سپکاوی وشو




دسولی افغان دځار دخپرونی خبریال مجید څلاند د غبرګولی پر ۳۱، هغه وخت دغزنی د والی دساتوونکو له لوری تر سپکاوی او ګواښ لاندی راغلی و کله چی د راپور دجوړلو په موخه د ولایت مقام ته تللی و او غوښتل یی چی د ولایت مقام د ویاند سره مرکه وکړی.

ښاغلی مجید څلاند دخبرو په ترڅ کی دنی دفتر ته وویل : دمرکی لپاره ځو ځل د ولایت دویاند ښاغلی جمعه زاده سره په اړیکی کی شو خو د هغه څخه هیڅ ځواب وانه خیست ورسته دولایت مقام ته راغلو د دروازی په خولی کی زموږ ټول وسایل ولیدل شول د ولایت دفتر خواته روان شو کله چی مو وغوښتل چی د ویاند اتاق ته ننوتم چی په همدی وخت والی دساتونکو له لوری موږ منع کړی شو یوتن چی شخصي جامی یی په تن وی ساتوونکو ته یی وویل ، تاسو ته مو لامخکی ویلی وه چی

نباید څوک ولایت ته داخل شي او ساتوونکو ته یې هدایت ورکړی و ترڅو موږ د ولایت د ودانۍ څخه خارج کړي کله چې مې وغوښتل ترڅو دخبریالانو د مدافع دیو ارګان سره خبرې وکړم تلیفون، کمره او ریکاډر یې زما دلاسه واخیست او ماته یې سپکاوی وکړ کله چې مې ورته وویل چې زه خو نه تروریست یم او نه هم دښمن یو خبرنګار یم چې د معلوماتو په خاطر مې دولای مقام ته راغلی یم په دې وخت کې یو زیات شمیر عسکران په ډیر بد وضعیت سره موږ داخطار په ډول وویل که چیری موږ ستونزه جوړه کړی بیا مو وهو او دا اوس باید د ولایت مقام نه ووزی.

ښاغلی خلاند همدارن ګه زیاته کړه: زه د دریو کالو راهیسی چې دغزنی په ولایت کی دخبریالی کار باندی بوخت یم د داسی بدی رویی سره نه یو مخ شوی او دا لومړی ځل دی چې دنوی والی په تقرر والیسره خبریالان ددی ډول وضعیت سره نه کیږی .

په همدی حال کی دغزنی ولایت دخبریالانو د ټولنی مسوول ګلاب الدین امیری دنی درسنیو څار دفتر ته یی ویل:» یوله هغه ستونزو څخه چی خبریالان د هغه لاس او ګریوان دی معلومات ته دلاسرسی موضوع ده چی مسوولین دمعلوماتو د ورکړي څخه ډډه کوی او خبریالان حتی دولایت د چارواکو دساتوونکو له لوری تر وهلو ټکولو لاندی راځی ،لکه څرنګه چی یو څو موده مخکی دخصوصی تلویزونو لکه د تمدن او راه فردا خبریالان دغزنی ولایت دملی امنیت د ریاست له لوری وهل شوی و .

دامیری پر وینا د نوی والی ساتونکی دخبریالانو سره بده رویه کوی او هغوی دبیان پر آزادی باندی هیڅ باور نه لری.

د غزنی ولایت ویاند واحد الله جمعه زاده د نی درسنیو څار دفتر ته وویل: پدی باره ما خپله دښاغلی خلاند سره خبری کړی دی او دهغه ستونزه حل شوه، که چیری ساتوونکو دا کار په قصدی ډول تر سره کړی وی د هغه سره به قانونی چلند وشی.

دښاغلی جمعه زاده پروینا مخکی هم ستونزی وی چی وروسته مو دا ستونزی د رسنیو دمسوولینو سره یو لړ ناستی درلودی او ددی ستونزو دحل په لاره کی مو خبری کړی دی.

عبدالمجیب خلوتګر دنی اجرایی رییس وایی : هیڅ امنیتی او دپلتنی پوسته داحق نه لری چی پرته له کوم دلیل څخه خبریالان ودروی او دهغه وسایل واخلی او دهغوی سره دزور نه کار واخلی.

ښاغلی خلوتګرهمدارنګه زیاته کړه : هغه څخه چی دغزنی د خبریالانو سره پیښ شول په حکومتیارګان کی د حکومتی کسانو تر منځ د همغګی نه شتون ده نوځکه ، د غزني ولایت دځایی دولت څخه زموږ غوښتنه دا ده کوم سرتیري چې دا غلطي کړې د قانون سره سم ورسره چلند وشي.

به باور نی هیچ کس حق ندارند تا مانع رفتن خبرنګاران به نهاد حکومتی و یا مقام دولت شوند مګراینکه پرتوکول های امنیتی اجازه آن را ندهد.

دنی په آند هیڅ څوک داحق نه لري چې دولتي اداري یا دولتي چارواکي ته د خبریالانو د ورتګ خنډه وګرځي پرته لدې چې امنیتي پروتوکول هغه ته اجازه ورنه کړي

دافغانستان اسلامي جمهوریت

دعدلي وزارت

# معلوماتو ته دلاسرسي دقانون دیوي مادې شنل

رسمي جریده

## اطلاعاتو ته د لاس رسي قانون

## قانون دسترسی به اطلاعات

دخپرېدو نېټه: د۱۳۹۳ هـ .ش کال د مرغومي دمیاشتې (۲)
پرله پسې نمبر: (۱۱۵۶)

تاریخ نشر: (۲) جدی سال ۱۳۹۳ هـ . ش
نمبر مسلسل: (۱۱۵۶)

## شنل

## د جزا په کوډ کې رسنیزو جرمونو ته، جرمي بڼه ورکولو اړتیا

افغانستان په حساس حالت کې دی. پدې وخت کې، د هربل شي په پرتله د رسنیو رول خورا مهم دی. په یو هیواد کې رسنی کولی شي چې د بحران لامل شي او هم کولای شي د بحران رامینځته کیدو مخه ونیسي. دا رول تر یوې کچې د بشري ټولنو لپاره ترټولو لوی او خورا اغیزناک و تردی چی حتی په نړی کې د اقتصادي ، سیاسي ، نظامي او حتی د ځواکمن نظامونو د سقوط سبب شوی دي، چی یو مثال یی سړه جګړه ده.

د خپاره شوی مطالبو پراساس، د ختیځ قطب د لویدیځ قطب په وړاندې بایلونکی اعلان شوی،د افغاانستان دجزا په کوډ کی درسنیزو جرایمو ته جرمی بڼه ورکول یو د مثبتو ټکو څخه دي چی ددی موضوع په باره کی تررسنیزو جرایمو دمادو ترختم پوری موږ بحث وکړو .

هرکله چې رسنی وکولای شی چی په ټولنه کې رول ولوبوی چې د یو هیواد داخلي نظام دبدلون سبب شی سرغړونه او جرم په هیڅ صورت د منلو وړ نه ده . رسنییز چلند او کړنې له غلطیو پرته ندی.

د معمول طبیعت له مخې ، دا چلند او عمل یو ډول رسنیزز جرم یا سرغړونه ده ، کوم چې په قانون کې هغه ته سپکاوی ، درواغ ، او جاسوسۍ او داسې نور بلل کیږي. هر یو پورته عملونه خپل شرایط او عناصر لري هر یو چې موږ یې په خپل ځای کې مطالعه کوو.

رسنیز سرغړونی او رسنیز جرایم له هغه مواردو څخه دي چی دټولنی سره مستقیم اړیکی لری. خو د رسنیو کارکونکی تل هڅه کوی چی په خپل معلومات ورکولو کی دسرکړونی لامل ونه ګرزی

څکه چی ډیر بده پایله به ولری، کله چی جرم یا سرغړونه درسنی په واسطه تر سره شي؛ دشکایت کونکی مرجع به خپل شکایت رسنیز سرغړونو دارزونی کمسیون کی ثبت کړی او هغه کمیسیون به هم اړین هوډ نیسی او دنوموړی دوسیه به هم د جرم او سرغړونی په نظر کی نیولو سره عدلی او قضایی څانګو ته راجع کیږی.

په هغه صورت چی کومه رسنۍ څارنوالی ته معرفی شي د خلکو اعتبار او باوربه پر هغه رسنۍ کمیږی څنګه چی پوهیږو د رسنیو پایښت دخلکوپر اعتبارولاړ دی. نو پدی صورت اړتیا ده ترڅو پر رسنیزو دسرغړونو او جرمونو په پیژندلو کی کار وکړو اوسرغړونی او جرمونه د قانون په روښنایی باید وارزول شی .

افغانستان هغه ټولنه خلک ډیر زیات دټولنیزو اندیښنو سره مخ دي او له هیڅ خوا څخه په ښه وضعیت قرار نه لری . په همدی حال کی رسنۍ ډیر زیات مهم رول پرخلکو او ټولنه باندی لری . خو په څینو مواردو کی رسنی دخپلو فعالیتونو په تر سره کولو سره په ناپوهی کی خلک او ټولنې ته ضرر رسوی . دا ضررونه کله په قصدی او څینی وخت هم په غیر قصدی ډول پیښیږی. نو درسنیو ددی حرکاتو پر اثر کله چی رسنی او اشخاص ضرر وینی باید پوهه تر لاسه کړو چی څه ډول کړنی تر سره کړو؟ او د افغانستان قوانین د هغه په هکله څه بیان کړی دی ؟ ددی حرکاتو په هکله قانون دوه ډوله مفهومه بیان کړي دي چی یو رسنیز سرغونه او رسنیز جرم پیژندل شوی دي. اړتیا پر دی ده چی ذکر شوی موضوع په بشپړه وضاحت کی قرار لری او درسنیزو جرمونو دمادو شنل، لوستونکی د هغه رسنیو د برخلیک چی په هکله چی کوم چی د دندی پرمهال د ناپوهی په پایله کی او یاهم دغلطو سیاست په نیولو سره دداسی جرمونو او سرغړونو مرتکیب کیږی پوه پیداکړی.

# مطبوعاتی اعلامیه

## نی دافغانستان د آزادو رسنیو ملاتړ اداره

**اعلامیه مطبوعاتی نی**

**دغبرگولی ۱۹/ ۱۴۰۰**

**کابل – افغانستان**

## درسنیزو کارکوونکو جبری اخراج دقانون خلاف کار دي

یو شمیر رسنیو وروسته له هغه چې د بهرنیو ځواکونو وتل د افغانستان څخه اعلان شو پرته لدی چې د تولنیزو رسنیو د کار او فعالیت دتاسیس مقرره او د کار قانون په نظر کې ونیسي، خپل یوشمیر کارکوونکی له کاره ویستل چې پدی هکله یو شمیر شکایتونه د نی درسنیو څار دفتر ته رسیدلی دی .

شکایتونو ته په پاملرني سره ، نی دافغانستان د آزادو رسنیو ملاتړ اداره په دي باور ده که چیری داسی چلندونه د درسنیزو کارکوونکو پر وړاندی شتون ولری دقانون او اصولو خلاف کار دی چې دتولنیزو رسنیو د کار او فعالیت دتاسیس د مقرری څخه څرگنده سرغړونه شمیرل کیږی.

اوپه بل مورد کی، څو موده پخوا یو شمیر رسنیو او رسنیزو بنسټونو خپل خبریالان پرته لدی چې دهیواد نافذه قوانین په نظر کی ولری د دندی څخه ایستلی دی

نی، د اطلاعاتو او کلتور وزارت څخه د اړوند بنسټ په عنوان غواړی تر څو د ټولنیزو رسنیو دتاسیس دکار او فعالیت د مقرره په نظر کی نیولو سره او همدارنگه دکار او ټولنیزو چارو وزارت څخه غوښتنه کوو دافغانستان د کار دقانون په رعایت کولو سره پدی هکله مداخله وکړی ترڅو اړوند احکام پلی کړی ترڅو درسنیو کارکوونکو حقوق تامین شی..

نی به دلاس ته راغلی شکایتونو په نظر کی نیولو سره چې دیو شمیر خبریالانو څخه لاس ته راوړی دي هغه به وڅاری ..

**دنی مطبوعاتی اعلامیه**
**دغبرگولی ۱۹/کال ۱۴۰۰**
**کابل - افغانستان**

## خبریالان او رسنیز کارکوونکی دهیواد له بل هرچا نه ډیر زیات له جګړی څخه زیان لیدلی دی او اغیزمن شوی دي

دلوګر ولایت د محمد اغی ولسوالی سیمیز خبریال حفیظ الله حق‌پرست دچهارشنبی ورځ دغبرګولی ۱۹ دغرمی پر مهال دګلنګار دعرب خان په کلی کی ددولتی ځواکونو او طالبانو دوسله والو جګړو پرمهال ووژل شو .

دحق‌پرست کورنۍ ویلی دي چی هغه غرمه دګلنګار دعرب خان په کلی کی په بڼوالی بوخت وی چی د دولت او طالبانو ترمنځ جګړه وشوه او پدی منځ کی حق پرست په شهادت ورسید .

دلوګر ولایت دمقام ویاند دیدار لونګ ددی پیښی د څیړني دپیل څخه خبر ورکړاو ویلی دي چی وروسته له څیړنی به پایلی د رسنیو سره شریک کړي.

نی د افغانستان دازادو رسنیو ملاتړ اداره د نښتو غاړو څخه غواړی چی بشری حقونه رعایت کړی او دعام خلکو د وژلو په تیره بیا د خبریالانو دوژلو څخه ډده وکړی او دهغوی دځان ساتنه، د خپل د کار په لومړیتوبونو کی ځای ورکړي.

دا په داسی حال که ده چی تیره پنځشنبه د آریانا او آریانا نیوز رادیوتلویزیون خبریاله مینا خیری دخپل خور او مور سره دیو چسپکی ماین له چاودنی له امله چی دهغوی پرحامل موټر باندی صورت وموندی خپل ځانونه دلاسه ورکړل.

دښاغلی حق‌پرست په وژنی سره دا نهم خبریال یا رسنیز کارکوونکي دي چی د۲۰۲۱ کال راهیسی خپل ژوند دلاسه ورکوی .

ښاغلی حق‌پرست په ۱۳۸۳ کال خپل رسنیز کار د ملی پیغام په رادیو کی دلوګر ولایت د محمدآغه په ولسوالی کی پیل کړ او دشهادت تر وخته پوری په راز راز ملی او نړیوالو رسنیو کی دنده تر سره کړه.

**دنی مطبوعاتی اعلامیه**
**دغبرگولی ۱۴۰۰/۲۶ کال**
**کابل – افغانستان**

## معلوماتو دافشای په سبب چی دخلکو حق دی، د دندی څخه په اجباری ډول ایستل ، غیر قانونی دي

دجمهور رییس لومړی مرستیال امرالله صالح دکورنی چارو وزارت د درانه جرایمو څلور تنه کارکونکی د رسنیو سره دمعلوماتو د ورکړې او دهغه د نشرولو په خاطر له کاره گوښه کړی .

دا د دندی گوښه کول په داسی حالاتو کی صورت موندلی دي چی د افغانستان د اساسی قانون ۵۰ ماده پراساس معلوماتو ته لاسرسی د هر وگړی حق بللی شوی دی او حکومت مکلف دي ترڅو اطلاعات د هغوی دغوښتنی پراساس د هغوی په واک کی ورکړی

معلوماتو ته دلاسرسی د قانون د۳۶ مادی پراساس کوم شخص چی معلومات د دښه نیت په خاطر افشا کړی د قانون داحکامو مطابق دثبوت په صورت کی به هغه حقوقی ، اداری او وظیفوی مصئونیت څخه برخمن وی او ملاتړ یی کیږی .

نی په دی باور دي که چیری دا مجازات دوام وکړي دابه دمعلوماتو ازاد څرخ په ټپه ودروي او هغه ته به زیان ورسوی

د ذکر شوی قوانینو پراساس، حکومت حق نه لری دکورنیو چارو وزارت کارکونکی دمعلوماتو د شریک کولو په خاطر تر پلټنې لاندی ونیسی ، هغوی محازات او د دندو څخه گوښ کړی مگر په هغه شرط چی ورکړل شوی معلومات د قانون خلاف وی .

دکورنیو چارو وزارت د کارکونکو انفکاک د کار دقانون په خلاف کار دی او حکومت باید د نافذه قوانینو پراساس ددوی سره معامله وکړی او دهغوی څخه بخښنه وغواړی همدارنگه دا کسان باید خپلو پخوانیو دندو ته بیرته جذب شي.

نی په دی باور دي که چیری دا مجازات دوام وکړی دابه دمعلوماتو ازاد څرخ په ټپه ودروی او هغه ته به زیان ورسوی

**دنی مطبوعاتی اعلامیه**
**دچنگابن /۱/۱۴۰۰**
**کابل – افغانستان**

**دامنیتی معلوماتو د شریکولو په موخه ولایتی دفترونه جوړ کړئ اویا دا چی د افغانستان حکومت د امنیتی دفاعی عمومی بنسټونو د ویاندانو د دفتر جوړښت ته دی کتنه وشی.**

دافغانستان جمهوری ریاست دیو حکم په پایله یو نوی دفتر د عامه ستراتیژیکو اړیکو تر سیوری لاندی د افغانستان حکومت د امنیتی دفاعی،عمومی بنسټونو ویاند دفترجوړ کړی دی چی دا دفتر مسئولیت لری تر څو تول امنیتی او دفاعی معلومات دخبریالانو سره شریک کړئ ترڅو په امنیتی او دفاعی برخه کی د شایعاتو او پروپاگند د خپرولو څخه مخنیوی وشي.

دنی دفتر په دی باور است چي دا کړني ظاهراً پخوانی دی داچی امنیتی او دفاعی معلوماتو شریک کول په یوه واحد مرکز کی د نی په آند دا زمینه برابره وی چی د افغانستان په سلگونه خبریالان چی وغواړی دیو موضوع په هکله ددی دفتر څخه معلومات تر لاسه کړی، باید په ورځو ورځو په تمه اوسي . دا پروسه کیدای شی چی معلوماتو ته پر لاسرسی باندی محدودیت وضع کړی په داسی شرایطو چی خلک له هرڅه ډیرزیات معلوماتو ته اړتیا لری که دا دفتر جوړشی و دابه دهیواد دمروجه قوانینو خلاف کار وشمیرل شی .

دنی دفتردافغانستان د افغانستان د جمهوررئیس څخه غوښتنه کوی ترڅو لومړی دافغانستان حکومت دامنیتی دفاعی ویاندانو ته ولایتی دفترونه جوړ کړی که چیری دا کار ممکن نه وی، کوم حکم چی ددی دفتر دجوړیدو سبب شوی دی باید یوځل بیا کتنه وکړی .

**مهمه یادونه:**

ټولو خبریالانو او رسنیو ته خبر ورکول کیږی چی ښاعلی محمد ظریف کریمی درسنیو دڅار په دفتر کی دمدافع وکیل په حیث کار کوی. هغه شمیر خبریالان او رسنی چی دحقوقی ستونزو سره مخ دی او یا دکار په جریان کی حقوقی صلاح اومشورو ته اړتیا لری دده سره دی اړیکی ونیسی.

د اړیکی شمیره: ۰۷۹۹۷۹۵۹۰۰ (۰) ۹۳ +

برښنا لیک: zarif.karimi@nai.org.af

**د ډیرو مالوماتو لپاره:**

**نصیر نوری:درسینو دڅار مسوول**

داړیکې شمیره: ۷۸۷۲۰۱۹۱۵ (۰) ۹۳ +

nasir.noori@nai.org.af- noori.nasir1990@gmail.com

**آمنه بابک: درسنیو دڅار خبریال**

داړیکې شمیره:۷۸۹۱۰۸۳۳۲(۰) ۹۳ ۰۰

Amina.babak@nai.org.af

د P D Fدنسخوترلاسه کولو لپاره دې پتې ته مراجعه وکړی http://www.nai.org.af/Mediawatch.htm

درنولوستونکوتاسې کولی شی چې دخپرونې دلانبه والې لپارخپل نظریات اووړاندیزونه موږته راواستوی.

هرکله چې خبریالان اودرادیوگانومسئولین له ننگونوسره مخ کیږیمهرباني دې وکړي له موږسره دې په پورتنیو پتوپه تماس کې شي اوله موږسره دې موضوع شریکه کړیترڅوموږوکولی شو درپوټونو دتعقیبولو له لیارې ددوی دستونزدلرې کولولپاه لاس په کارشو.

**دپام وړیادونه:**

له ریوټر سره درپوټ وړاندې کولوپه اړه له ده سره چې کوم گواښ اوویره شته ده دمحرمیت أمنیتي مسأیلوساتنې په اړه درسنیو دڅار دفتر ته داممکنه نه وه چې درامنځ ته شووپیښوپه اړه ډیر ې پلټنې اوڅیړنې وکړی.

هغه لیکنه چې په پورتنې ریوټ کې راغلې هیڅوک نشي کولی چې دنی موسسې له اجازې پرته هغه چاپ اوخپورکړي.

**همدارنگه معلوماتو ته دلاسرسی دستوزو د حل او مشوری په هکله ددغه څلورویشت ساعته شمیره سره اړیکی ونیسئ**

**۰۷۹۳۷۰۲۰۰۴۴۷۷**